گل مرجان منگل ۲۰۱۲/۰۷/۱۰

# په پیشوګانو غوښی مه ساتی!

دا دی د کرزی مدریتوب خو بیا کار وکړ، هغه دا چی نړیوالی ټولنی ته یی فریب ورکړ او د ۱۶ میلیاردو امریکایی ډالرو وعده یی بیا تر لاسه کړه.خو نړیوال دی پدی ښه پوه شی او پدی باندی د خپل سرونه ښه خلاص کړی چی دا وعده شوی ډالر به د پخوا په شان په بی ځایه ډول لکه مخکی چی په میلیاردونو ډالر راغلی وو بی نتیجی ورک شول او هیڅ ځای یی نه دی نیولی دا به هم د هغو ورک شویو ډالرو په پله پل کیږدی او هیڅ ځای به ونه نیسی.
دا وار یوه بله بدبختی هم ورسره یو ځای شوی هغه دا چی ٪۸۰ یعنی( اتیا سلنه ) به د دی فاسدی، بی کفایته او د حرفوی غلو څخه جوړه شوی اداره مصرفوی، دا وار یی ښه خوند وکړ.له بدو بتره خو هم دا ده کنه.دا ځکه چی خارجیان که فساد هم کوی لږه ګذاره خو کوی که سل وی نو شل یی کیدلای شی وخوری او اتیا بل ته ورکوی، خو دا زموږ ظالمان خو هیڅ دول رحم نه کوی بلکی پنځه واړه ګوتی ټولی په خوله ننه باسی.

دلته لږ شانته له اصیلی موضع څخه پښه اړوم، او باور وکړی چی د سترګو لیدلی حال درته وایم.او دا تقریبآ ۱۰ میاشتی وړاندی خبره ده چی په خوست کی می د اسمعیل خیلوولسوالی قاضی ته چی په خپله په ولسوالۍ کی نه کشنی بلکی د خوست له شهر څخه غیری قانونی اجرات کوی ، یوه عارضه ورکړه چی د نکاخت یه اړه وه. پوهیږی چی قاضی ماته څه وویل؟ هغه ماته وایی چی د دی بیرون کسانو سره خبره وکړه ماته مه راځه. بیرون کسان یی ګمشنکا ران وو.نو تاسو فکر وکړی چی په یوه هیواد کی تاسو ته د یو محکمی قاضی داسی خبره وکړی چی لاړ شه د بیرون کسانو سره خبره وکړه، دا به په څه معنی وی؟ دا د دی معنی لری چی قانون هیڅ وجود نه لری او ځوک چی پیسی او رشوت ورکوی کار یی کیږی او ځوک چی پیسی نه لری حق یی د قاضی په غیری عادلنه فیصله تر پښو لاندی کیږی.نو چی قاضی د په اعلانی ډول په فساد کی لړلی وی او بدې اخلی نو عارضه به چاته کوی؟
راځم خپلی اصلی موضع ته، زه نه پوهیږم چی موږ لیوانی یو او که د نړۍ مشرانو لیوني او به چښلی دی؟ دولس کاله کیږی او دا نړیوال یی ښه په غتو وینی چی د کرزی په اداره کی څه حال دی؟ فساد ،رشوت اخیستل او ملی شتمنی لوټول په کوم پړاو کی قرار لری؟ دوی بیا هم د میلیاردونو ډالرو وعدی کوی او هغه هم د دی غلو په لاس ورکوی. دا خو داسی معنی لری لکه په بیشو چی غوښه ساتی. نوپه پیشو ګانوغوښی مه ساتی او نه به یی وساتی.
تاسو یقین وکړی چی زه پدی شرمیږم چی بیا، بیا د فساد، بی کفایتي او د دی ناستی اداری نیمګړتیاوو ته په تکراری ډول اشاری کوم، خو دوی یی چی عملآ تر سره کوی نه شرمیږی.نو نړیوالو ته پکار ده چی د وعده شویو ډالرواختیار د دی اداری په لاس کی ور نه کړی.
نو لکه څنګه چی ویل شوی هم دی وعده په مشروط ډول شوی او نړیوال یعنی دا چی اصلاحات به راولی. نړیوال باید په هر څه باندی کنټرول ولری. همدارنګه که نړیوال رښتیا غواړی چی د افغان ولس سره مرسته وکړی نو د په داسی لارو چارو غور وکړی چی په دا ناسته اداره کی اصلاحات راشی او کله چی اداره د فساد او بی کفایني حالت څخه را ووزی بیا ددوی کومک ته ډیر ضرورت نه پیدا کیږی او که موږ د طفیلی په شان اموخته کوی دا کومک نه دی بلکی د افغان ولس سره خیانت دی چی نړیواله ټولنه یی د افغانانو سره کوی .
بل خوا د کرزی او د ده ناسته اداره د دي ته نه خوشحالیږی چی ګواکی بیا یی نړیوالو ته بازی ورکړه او په میلیاردونو ډالر به راشی او خپل جیبونه به پری ډک کړی. کرزی او ناسته اداره یی باید د ډیرو سختو شپو انتظار وباسی او هغه شپی به هغه وخت راشی چی نړیوال ځواکونه له افغانستان څخه خپله کمپلی څنډ باسی او پښی سپکی کړی. دا به ډیری سختی شپی وی او ددی اداری لپاره پکار ده چی هغو شپو ته تیاری ونیسی ځکه چی دا دومره خارجی قواو په دومره غنی ټیکنلوژی ونه شوه کولای چی په افغانستان کی امن راولی، ناسته اداره خو یوه ثانیه هم نه شی کولای. نو لا اوس هم سر وخت دی کرزی باید ولس ته مراجعه وکړی او په الله ج او په ولس تکیه وکړی، ګنی بیا به د مچ په شان لاسون سولوی او وخت به تیر وی
په اخر کی دی ناست اداری ته دومره وایم چی، په لیاز د خدای چی همدومره بس ده اوس خو به ماړه شوی وی. نور لږ د ولس غم هم وخوری او په دی بیچاره او ځوریدل ولس زړسوی وکړی دا هم ستاسی به شان انسانان


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

دی او ستاسو هیوادوال دی او مسلمانان دی. همدومره بس ده او په صادقانه ډول طوبه وباسی او د خپل هیواد او ولس لپاره کار وکړی.نور  دا خیراتون هم دومره بس دی، تر کومه به مو نړی ته لاس نیولی وی او خیرات به ځینی غواړو.

شاعر وایی:

د منت دارو که مرم پکار می نه دی<br>
که پوښتنی ته می راشی مسحا هم



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ